مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۳/۰۸/۱۱

# جهاد او د جهاد اړتیا




الله تعالی انسانانو او ټولو ساکښو او نباتاتو ته د ځان د دفاع حق او وسایل ورکړي دي، انسانان چې مقام یې له نورو ساکښو لوړ دی، الله (ج) پوهه ورکړې ده چې د خپلې پوهې پر بنسټ په بېلابېلو وسیلو باندې د ځان ساتنه کوي، نور ژوي لکه څه ډول چې خلق شوي دي، د خپل جوړښت له څرنګوالي سره سمه دفاع کوي. ونې او نباتات د خپلو اغزیو، پوستکو او نورو وسیلو په وسیله له خطره ځانونه ژغوري. که انسانان او ژوي د خپل ژوند د ژغورلو په موخه هڅه ونه کړي طبعیي ده چې ژوند له لاسه ورکوي چې په پای کې به د ځمکې پر مخ ټول بې دفاع ساکښ له منځه ولاړ شي، پرغل کوونکي او زورور به د دوی ځای ناستي شي، الله تعالی فرمایي:

﴿إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ﴾

ژباړه:«که تاسي (د جګړې ډګر ته) ولاړ نه شئ، تاسي ته به دردناکه سزا درکړي او ستاسي پر ځای به بل قوم ځای پر ځای کړي.» (توبه: ۲۹)

له ځان، کورنۍ او نورو ساتنه د انسانانو په فطرت کې نغښتې ده، که څوک د جګړو مخالف هم وي خو چې کله له خطر سره مخ شي اړ کیږي دفاع وکړي چې یوه بېلګه یې د هند د عدم تشدد مخکښ مهاتما ګاندي چې د هندوانو د جین مذهب او د عیسویانو له دیني کتابونو (انجیلونو) څخه اغیزمن شوی ؤ، د دښمنانو پر وړاندې د هر ډول جګړو مخالف ؤ، هغه هندیانو ته د اشغالګرو انګریزانو پر وړاندې د جګړې اجازه نه ورکوله خو کله چې په دویمه نړیواله جګړه کې جاپانیان هند ته نږدې شول او برما ته راورسیدل، نو ګاندي چې سخت خواشینی شو، د هند د کانګرس ګوند، د ګاندي جی د عدم تشدد کرښلاره مردوده او له هیواد څخه دفاع یې اړینه وبلله، ګاندي جي اړ شو چې د خپل عدم تشدد له سیاسته تېر شي نو ویې لیکل:«د هند آزادي دې د انګریزانو لخوا په رسمیت وپیژندل شي او د هند وګړي دې د جاپانیانو پر وړاندې له متفقو هیوادونو سره یو ځای وجګړیږي.» (جواهر لال نهرو: کشف هند. ۷۸۵مخ)

د نړۍ په اکثرو دیني کتابونو کې د جګړې څرنګوالی او شرایط په بېلابېلو بڼو او ډولونو ذکر شوي دي، د یهودو په شریعت کې درې ډوله جګړې شتون لري: (واجبي، دفاعی او اختیاري) چې هر ډول جګړه یې ظالمانه او له افراطه ډکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ده. واجبي جګړې داسې جګړې دي چې د یهودو د ځانګړي خدای (یهوه) په امر تر سره کیږي چې سر ترپایه له بې رحمیو او ټولوژنو ډکې دي.

دویم ډول دفاعي جګړه ده، په اسرایلو کې دفاعي جګړې کومه مانا نه لري، په دې دلیل چې اسرائیل د ځایي اصلي اوسیدونکو د ځمکو غاصبین او یرغلګر دي، د دوی دفاع د آزادۍ غوښتونکو پر وړاندې پهخپله تیری او ظالمانه جګړې دي.
دریم ډول اختیاري جګړې دي دا ډول جګړې د اسرائیلو لخوا د ګاونډیانو د ځمکو د نیولو په موخه ترسره کیږي، که د یو ښار اوسیدونکي بې له جګړې تسلیم شي نو نه دې وژل کیږي او په غلامی دې ونیول شي، که مقاومت وکړي نو وروسته له فتحې دې ټول سړي ووژل شي، ښځې او ماشومان، څاروي او نور دې په غنیمت ونیول شي.
د یهودو دیني پوهان پورته دريې ډوله جګړې سپیڅلي او عادلانه بولي، په داسې حال کې چې دريې واړه جګړې یې د داړونکو ځناورو په څېر دي. (د ډیرو مالوماتو لپاره په روهي ویب پاڼه کې د محمد انور اخړ لیکنې ولولئ: عادلانه جګړه په یهودیت کې.)

د عیسویانو په دیني کتابونو (انجیلونو) کې د هېڅ ډول جګړو ذکر نه دی راغلی تر دې چې د دفاعي جګړې احکام هم نه تر سترګو کیږي. له خپلو دښمنانو سره د غچ اخیستلو پر ځای دوستي کوي، که څوک یې یو مخ ته ووهي، بل مخ هم وروړاوي. په انجیلونو کې راځي:«خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ» (متي انجیل ۵، باب/۴۴؛ لوقا،۶، فصل، ۲۷آیت)
د پورته آیت څخه وړاندې او وروسته آیاتونه پر اصل مطلب باندې ښه رڼا اچوي چې کوم تفسیر ته هم اړتیا نه پاتې کیږي:
«تاسو خبر یاست چې هغوی [اسرائیلو] ته ویل شوي وو چې د خپل ګاونډي سره مینه کوئ او د خپل دښمن څخه کرکه خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ او څوک چې په تاسو ظلم کوي د هغو لپاره دعا غواړئ ... .» (متي انجیل ۵، باب، ۴۳/۴۴/۴۵)
«که څوک په ښي مخ څپېړه درکړي نو چپ مخ وروړاندې کړه.» (متي انجیل، ۵، باب، ۳۹)
د دې موضوع پوره مطلب داسې دی:«تاسو خبر یاست چې دا ویلي شوي وو چې، د سترګې په بدل کې سترګه او د غاښ په بدل کې غاښ. خو زه تاسو ته دا وایم چې د هغه سړي پرخلاف مه دریږئ، څوک چې در سره بد کوي، که څوک په ښي مخ څپېړه درکړي نو چپ مخ وروړاندې کړه.» (متي انجیل، ۵، باب، ۳۸/۳۹؛ لوقا انجیل، ۶،باب، ۲۹،آیت)
د پورته دواړو آیاتونو پر مطلب باندې هر څوک ښه پوهیږي چې اصل موخه یې څه ده او هېڅ ډول ابهام یا بل باطني راز نه لري خو د دې لپاره چې مسیحي روحانیون په ځانګړي توګه (سنت آګوستین) د عیسَی(ع) سوله غوښتونکو لاربښوونو ته د خپلې خوښې سره سم تغیر ورکړي، د دوی په نظر، په عیسویت کې عادلانه جګړو (مذهبي جګړو) ته لاره پرانیزي نو د خپلې خوښې سره سم یې په غلطه توګه تفسیروي. (د لا زیاتو مالوماتو لپاره په روهي ویب پاڼه کې د محمد انور اخړ لیکنې «عادلانه جګړه په مسیحیت کې» ولولئ.)

ومو لوستل چې په یهودیت او مسیحیت کې د جګړو په اړه افراط او تفریط راغلی دی، له نیکهمرغه چې د اسلام په سپیڅلي شریعت کې نه افراط شته نه تفریط، اسلام یو منځنی (اوسط) دین دی، په ځانګړي توګه چې د جهاد په برخه کې یې یوه اړینه منځنی لاره غوره کړي ده او هر ډول جهاد چې اسلامي شریعت یې ښوونه کړي ده عادلانه جګړې دي.
د خدای تعالَی په لاره کې د سپیڅلي او عادلانه جګړې (جهاد) موضوع ډېره لویه ده چې په هر اخیز جهاد باندې ډېر کتابونه لیکل شوي دي، د جهاد کلمه په کلام الله او د پیغمبر (ص) په احادیثو کې په بېلابېلو مفهومونو او ماناګانو راغلي ده:
په سر او مال جهاد کول؛ په علم سره جهاد کول؛ له خپل نفس سره جهاد کول.
د پیغمبر (ع) د حدیث پر بنسټ، د ظالم حاکم پر وړاندې د حق او انصاف غږ پورته کول لوی جهاد دی. او له خپل نفس سره جهاد هم لوی جهاد بلل شوی دی. اسلامي پوهانو، ښو ته رابلل، له بدو منع کول. (الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ)؛ د مور او پلار خدمت او هر هغه نېک عمل او کوښښ چې د خلکو او دین په لاره کې ترسره کیږي جهاد بللی دی.
هغه مهال چې پیغمبر (ع) په مکه مکرمه کې اوسیده او مسلمانان په کمزوري حالت کې وو، مؤمنانو ته د خپلو دښمنانو پر وړاندې د جهاد اجازه نه وه ورکړل شوي خو کله چې پیغمر(ص) او ملګرو یې مدینې منورې ته هجرت وکړ او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مسلمانانو شمېر زيات او ځواکمن شول نو د حج سورت ۳۹ آيت نازل شو او الله تعالی مؤمنانو ته د جهاد اجازه ورکړه. (لومړی هجري کال)
د خدای تعالی په لاره کي جګړه؛ له خپل ځان، خپل هېواد، کور او کلي څخه ساتنه، کورنی یا دفاعي جهاد دی. پر مسلمانانو باندې هغه مهال جهاد فرض کيږي چي د کفارو او منافقانو لخوا تېری پرې وشي او جګړه پرې وتپل شي، دا ډول تحمیل شوي جګړي ته دفاعي جګړه ويلی شو.
هر ډول ربښتيني جهاد د مسلمانانو په ګټه دی، د خدای تعالی په لاره کي جهاد د مسلمانانو لپاره ګټور او اړين دی الله تعالی زموږ جهاد ته هيڅ اړتيا نه لري.
﴿وَمَن جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ﴾
ژباړه:«هر څوک چي جهاد وکړي د خپل ځان د ښېګڼي لپاره يي کوي.» (عنکبوت: ۶)

د نړۍ ټول مسلمانان سره ورونه دي، له هېواده بهر د نړۍ له مسلمانانو سره هر ډول مالي او پوځي مرسته او له دوی دفاع کول بهرنی جهاد دی.
الله تعالی د جهاد حکم کړی دی، مجاهدين د الله غوره شوي بندګان دي، هغه کسان چي جهاد کوي او هغوی چي په کورونو کي ناست دي يو شان نه دي، د مجاهدينو مقام او اجر ډېر لوړ دی، په قرآن کريم او د پيغمبر (ع) په حديثونو کي لولو:
﴿وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾
ژباړه:«د الله په لاره کي جهاد وکړئ لکه څنګه چي د جهاد کولو حق دی، هغه تاسي غوره کړي ياست او په دين کي پر تاسي څه تنګي او سختي نه ده راوستل شوي.» (حج:۷۸)
﴿لَّا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا﴾
ژباړه: «له مسلمانانو څخه هغه کسان چي بې عذره په خپلو کورونو کي ناست دي او هغه کسان چي د الله په لاره کي په سر او مال جهاد کوي د دواړو حيثيت يو شان نه دی، الله د ناستو په پرتله د هغو کسانو درجه چي په سر او مال جهاد کوي ډېره لوړه کرځولې ده، که څه هم له هر يوه سره الله د ښېګڼي وعده کړې ده خو د هغو پر وړاندې د مجاهدينو د خدمتونو بدله له ناستو کسانو څخه ډېره زياته ده.» (نساء: ۹۵)

ژباړ:«... يو سړي له نبي کريم (ص) څخه پوښتنه وکړه: تر ټولو ښه خلک څوک دي؟
پيغمبر(ع) وويل: هغه څوک چي د الله (ج) په لاره کي په خپل سر او مال جهاد وکړي.» (صحيح مسلم:۸۲۹ حديث)
الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي چي کله د ظالمانو او يرغلګرو تر تېري لاندې راشي نو جهاد وکړئ او له ځانه په کلکه دفاع وکړئ قرآن حکيم فرمايي:
﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾
ژباړه:«پر هغو کسانو چي جګړه پرې تحميل شوي ده د جهاد اجازه ورکړل شوي ده، ځکه چي هغوی مظلومان دي او الله د دوی ملاتړ کولی شي.» (حج:۳۹)

﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾
ژباړه:«که څوک پر تاسي تېری وکړي، تاسي هم په هماغه ډول پر هغه تېری وکړئ. (بقره: ۱۹۴)

ټول مسلمانان سره ورونه دي، ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾ بايده دي چي يو تر بله مرسته وکړي، په ځانګړي توګه چي د ظالمانو تر تېريو لاندې راغلي وي او هغه بې وزله کسان چي د ظالمانو تر شکنجو لاندې بند پاتي دي، په سختۍ سره يي الله تعالی يادونه کړي ده او پوښتنه کوي چي ولي د مظلومانو مرستي ته نه وردانګئ؟ الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا﴾

ژباړه:«اخر څه دليل دی چي د الله په لاره کي د هغو بې وسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږي چي (د ستمګرو په لاس) کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې نيول شوي دي او فريادونه کوي:«ای زموږ ربه موږ له دې وطنه چي اوسيدونکي يي ظالمان دي وباسه او له خپل لوري څخه زموږ لپاره سرپرست او مرستندوی وټاکه!» (نساء: ۷۵)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

سره له دې چې باید مؤمنان یو تر بله مرسته وکړي، بلکې په خپل هوډ او ایمان کې سست او بې زړه هم نه شي، که چېرې د دښمن پر وړاندې سستي ښکاره کړي نو ناکامي یې په برخه ده، رب العالمین فرمایي:

﴿فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ﴾

ژباړه:« هېڅ کله سست او بې زړه نه شئ او (دښمنانو ته د بې پته) سولې وړاندیز مه کوئ. په داسې حال کې چې تاسې برلاسي یئ، الله ستاسې ملګری دی او هغه به ستاسې عملونه ضایع نه کړي.» (محمد: ۳۵)

هغه منافقان چې له کفارو سره د مسلمانانو پر وړاندې مرسته کوي او مټ په مټ د بې ګناه مسلمانانو په وژلو او بندي کولو لګیا دي، هغوی چې له حربي کفارو سره دوستي کوي، نو هغوی هم په هماغو کې حسابیږي، قرآن کریم یې په اړه وایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾

ژباړه:«ای مؤمنانو! یهودان او عیسویان ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو کې سره ملګري دي، ستاسو څخه چې څوک هغوی په ملګری نیسي نو بیا هغه هم په هماغو کې شمېرل کیږي.» (مایده:۵۱)

او په پای کې به دا هم ووایو هغه حربي کفار او د کفارو ملګري (منافقان) چې له مؤمنانو سره نږدې اوسیږي، پر مسلمانانو یرغلونه کوي، مسلمانان وژني، بندیان او شکنجه کوي یې، الله تعالی له هغوی سره د جهاد امر کړی دی چې باید په نږدې سیمو کې جګړه ورسره وشي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً﴾

ژباړه:«ای مؤمنانو! له هغو کافرانو سره وجګړېږئ چې تاسو ته نږدې وي، هغوی باید په تاسو کې سختي او توندوالی احساس کړي.» (توبه:۱۲۳)

﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾

ژباړه:«له هغو سره هر چېرې چې مخامخ شی وجګړېږئ، هغوی له هغه ځایه وباسئ چې تاسې یې ایستلي یاست.» (بقره:۱۹۱)

د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي جهاد له برکته د نړۍ ډېرې سیمې فتح او له بت پرستیو پاکې شوې دي او د یرغلګرو پر وړاندې د مسلمانانو اتلولۍ ځرګندې دي، د مسلمانانو دښمنان د اسلامي جهاد سره سخت مخالفت کوي، دوی له آره کوښښ کړی دی چې د جهاد مخه ډب کړي او د مسلمانانو برې ودروي، د جهاد د منسوخ ګرځولو له هڅو یوه بېلګه داسې ده چې په هند کې په ۱۸۵۷ز، کال د انګرېز استعمار پر وړاندې سراسري جهادي پاڅون رامنځته شو، دغه پاڅون چې مسلمانانو د اسلامي احساساتو پر بنسټ رامنځ کړی ؤ، د دې سبب شو چې انګرېزان د اسلام دغه د جهاد مهم رکن چې په هر شکل وي له منځه یوسي، هغه وو چې انګرېزانو یو تن میرزا غلان احمد قادیاني ته چې د هند د قادیان اوسیدونکی ؤ، دنده وسپارله چې په اړه یې کار وکړي، لومړی کار چې میرزا غلام محمد قادیاني تر سره کړ دا ؤ چې د نبوت ادعا یې وکړه او بیا یې د نورو مسئلو تر څنګ د انګرېزانو پر وړاندې هر ډول وسله وال پاڅون منع او اسلامي جهاد یې منسوخ او حرام اعلان کړ. د قادیاني دغې فتوا پر مسلمانانو څه اغېز ونه کړ خو یو شمېر متزلزلو کسانو له هغه ملاتړ وکړ چې د (احمدیه) په نوم یوه فرقه یې رامنځ ته کړه چې اوسمهال په هند او پاکستان کې لارویان لري. دا ډول خلک چې د ظالمانو پر وړاندې مسلمانان له جهاده منع کوي هغوی الله (ج) ښه پېژني الله تعالی فرمایي:

﴿قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَالْقَائِلِينَ﴾

ژباړه:«الله هغه کسان ښه پیژني چې خلک له جګړې راګرځوي.» (احزاب: ۱۸)

ومو لوستل چې د مور او پلا له خدمت نیولې، په تولنه نړۍ کې له مسلمانانو سره مرسته او هر ډول ښېګنې او ګټور کوښښونه جهاد دی، په دې بنسټ موږ مسلمانان باید یو تر بله لازمه مرسته او همکاري وکړو، پرته له جهاد څخه د مسلمانانو پایښت او ژوند ګرانیږي او د اسلام دښمنان پیاوړي او بریالي کیږي، موږ باید هېڅ کله د مسلمانانو دښمنانو ته تسلیم او په خپلو کړنو کې سست او دوه زړه نه شو، موږ باید له الله تعالی څخه وډار شو نه له انسانانو څخه، رب العالمین موږ ته داسې هدایت کړی دی:

﴿الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ۚ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾

ژباړه:«نن کافران ستاسې د دین له (زوال) څخه ناهیلي شوي دي، نو تاسې مه ترې وېرېږئ، بلکې له ما ووېرېږئ، نن ما ستاسې دین ستاسې لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړ او ستاسې لپاره مې اسلام ستاسې د دین په توګه منظور کړ.» (مایده: ۳)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**که فلک دې د زمري په خوله کې ورکا**
**د زمري په خوله کې مه پرېږده همت**
(خوشال بابا)

نېټه: ۱۴۰۲/۵/۲۰ل. ل

**پای**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ